د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

## علمي څېړنیز - سیمینار

# د پانګونې په جذب کې د افغانستان اسلامي امارت پالیسي

## د علمي - څېړنیز سیمینار لپاره د مقالو غوښتنه

په اوسنیو شرایطو کې «د پانګونې په جذب کې د افغانستان اسلامي امارت پالیسي» تر سرلیک لاندې علمي-څېړنیز سیمینار ځانګړی اهمیت لري. دا علمي-څېړنیز سیمینار د اقتصادي سیاستونو د تحلیل، د کورنیو او بهرنیو پانګه والو د باور پیاوړتیا او د کاري فرصتونو رامنځته کولو لپاره لارې چارې برابروي. دا چې افغانستان دوامدارې پراختیا ته اړتیا لري، دا علمي سیمینار کولای شي د اقتصادي بیا رغونې او خصوصي سکتور د ودې لپاره، د حللارو په وړاندې کولو کې مهم رول ولوبوي. د علومو اکاډمي، د هېواد په کچه د یوه ستر علمي-څېړنیز بنسټ په توګه، د دې سیمینار جوړېدو ته اقدام کړی چې له دې لارې څېړونکي، استادان، علمي او اجرایي بنسټونه خپلې څېړنې او تجربې شریکې کړي او د افغانستان اسلامي امارت د پالیسیو په چوکاټ کې د پانګونې د جذب په موخه د عملي حللارو په وړاندې کولو سره مرسته وکړي.

## د سیمینار موخې

---

دغه سیمینار پنځه سترې موخې لري، چې په لاندې ډول دي:

١. **د پانګونې او اقتصادي سیاستونو تشریح او تحلیل:** د روڼتیا او باور رامنځته کولو په موخه، د کورنیو او بهرنیو پانګونو د جذب لپاره د سیاستونو، مقرراتو او اسانتیاو تشریح او وړاندې کول.

٢. **د اسلامي امارت او خصوصي سکتور ترمنځ د همکارۍ پیاوړتیا:** د ننګونو پېژندلو او د ګډو حللارو وړاندې کولو لپاره، د دولتي ادارو، پانګه والو او سوداګرو ترمنځ د خبرو اترو فضا رامنځته کول.

٣. **په اساسي برخو کې د کورنیو او بهرنیو پانګونو جذب:** د دوامداره اقتصادي پرمختګ په موخه، د کرنې، کانونو، انرژۍ او زیربنایي سکتورونو په برخه کې د پانګونې د فرصتونو معرفي کول.

۴. **د پانګوالو لپاره د حقوقي او امنیتي شرایطو تحلیل:** د پانګوالو د ملاتړ او د هغوی د حقونو د تضمین په موخه د حقوقي، امنیتي او اداري چوکاټونو ارزونه او د اصلاحي نظرونو وړاندې کول.

۵. **د پانګونې د مدیریت په برخه کې د ظرفیتونو لوړول:** د روزنې او تجربو د تبادلې له لارې، د پانګونو د مدیریت، څارنې او اسانتیاوو په برخه کې د مسؤولو ادارو د پوهې او مهارتونو لوړول.

واټس اپ شمېرې: ۰۷۸۸۴۹۰۴۷۲، ۰۷۷۳۲۸۷۴۲۸ ایمیل: abdulsaboor.mubariz@asa.gov.af, masomjan@asa.gov.af

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د علومو اکاډمي**

**د بشري علومو معاونيت**

## د سیمینار موضوعات

۱. د کرنې او مالدارۍ په سکټور کې د پانګونې په اړه د شته فرصتونو او ننګونو څېړنه
۲. د کانونو او صنایعو په سکټور کې د پانګونې د ظرفیتونو او خنډونو ارزونه
۳. د ګرځندوی په سکټور کې پانګونه او د افغانستان پر اقتصادي وده یې اغېزې
۴. د اوبو او برېښنا په سکټور کې د پانګونې لپاره د شته فرصتونو ارزونه
۵. د پانګونې په جذب کې د اسلامي امارت د بهرنۍ پالیسۍ لومړیتوبونه
۶. په افغانستان کې د بهرنۍ پانګونې د جذب د حقوقي میکانیزمونو تحلیل
۷. د افغاستان په اقتصادي-ټولنیزه پرمختیا کې د پانګونې اغېزې
۸. په سیمه ییزو سازمانونو کې د افغانستان د غړیتوب له لارې د پانګونې فرصتونه
۹. په افغانستان کې د مشترکو پانګونو له لارې د بنسټیزو زېربناوو پراختیا
۱۰. د پانګونې په جذب کې د اسلامي امارت د شته اسانتیاوو ارزونه
۱۱. په افغانستان کې د پانګونې په جذب کې د رسنیو رول
۱۲. د بهرنۍ پانګونې په جذب کې د اسلامي امارت د اقتصادي او امنیتي ډیپلوماسۍ ونډه
۱۳. د پانګونې په جذب کې د سیمې له هېوادونو سره د اسلامي امارت د اړیکو ونډه
۱۴. د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې د پانګونې رول
۱۵. پانګونه او چاپیریال ساتنه

## ځای او اړینې نېټې

- د سیمینار د داېرېدو ځای: د افغانستان د علومو اکاډمي د علامه احمد علي کهزاد د سیمینارونو تالار
- د بشپړې مقالې د رالېږلو وروستۍ نېټه: ۱۰ / میزان/ ۱۴۰۴هـ.ل.
- د سیمینار د داېرېدو نېټه: ۳۰ / میزان/ ۱۴۰۴ هـ.ل.

## اړیکې

**ایمیل:** abdulsaboor.mubariz@asa.gov.af، masomjan@asa.gov.af

واټس اپ شمېرې: ۰۷۸۸٤۹۰٤۷۲, ۰۷۷۳۲۸۷٤۲۸

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

## د مقاله لیکنې لارښود

۱. مقاله دې د لیکوال له نوم، تخلص، علمي رتبې، د اړیکو شمېرې او برېښنالیک سره مل، پورته برېښنالیک یا واټس اپ شمېرو ته ولېږل شي.

۲. رالېږل شوې مقاله باید علمي-څېړنیزه، بکره او له منل شویو علمي معیارونو سره برابره وي.

۳. مقاله باید په بل ځای کې نه وي خپره شوې.

٤. د مقالې سرلیک باید لنډ او له منځپانګې سره سمون ولري.

٥. مقاله باید لنډیز ولري چې د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ وي او په لنډ ډول د څېړنې اهمیت، موندنې، میتود او اصلي پوښتنه ولري. همدارنګه لنډیز باید د یونیسکو په یوې ژبې ژباړل شوې وي.

٦. مقاله باید سریزه ولري چې په هغې کې د څېړنې اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې میتود او د مقالې جوړښت لیکل شوی وي.

۷. په مقاله کې مأخذونه باید د APA او End Note په بڼه راوړل شي.

۸. مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې و نه لري او د A٤ کاغذ پرمخ په ورډ کې ولیکل شي.

۹. مقاله باید لږ تر لږه ۵۰۰۰ او حد اکثر ۸۰۰۰ کلمې وي، د لیک اندازه ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله (Single) او اداري ته دې په سافټ او هارډ بڼه راولېږل شي.

۱۰. د سیمینار علمي کمېسیون د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې له مخې د مقالې د تایید، رد او اصلاح واک لري.

۱۱. سیمینار ته رالېږل شوې مقاله بېرته نه مستردېږي.

واټس اپ شمېرې: ۰۷۸۸٤۹۰٤۷۲، ۰۷۷۳۲۸۷٤۲۸ ایمیل: abdulsaboor.mubariz@asa.gov.af, masomjan@asa.gov.af